مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۴/۰۱

# داسې وسله شته چې به دلته کارېدلې نه وي!؟

کومې بدې و نشوې کومې ښېګڼې و نشوې!؟
په افغانانو باندې څه ريشخندې و نشوې!؟

ځوک طبيعي منابع ځوک يې جغرافيې ته غلهٔ دي
وايه د چا چا دې وطن پسې جبې و نشوې!؟

ځو به کيسې درته د ډزو، غرغرو کومه
کوم ب.م و نه چاودلو کوم ډول زندې و نشوې!؟

داسې وسله شته چې به دلته کارېدلې نه وي!؟
داسې کوم کور شته چې د وير پکې سلګې و نشوې؟

دا چې بيا بيا دي غولېدلي او بيا بيا غولېږي
خدايه نو ولې ددوئ دوه ګزه لکې و نشوې

کومه سجده د آبادی د وطن وکړي بـاور!؟
کومه دعا ده چې يې لپه کې بدې و نشوې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ